# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد — بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم — از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com — afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


بســــــمل
۲۰/۰۹/۱۰

# د تېرې ورځې په تپلو او نامشروع ټاکنوکې افغان ولس په سلو کې ۱۰٪ لسوهم ګډون ونه کړ

درنو لوستونکو!

له هر څه لمړی به په لاندې ډول سره دا پنځه مهمي پوښتني تاسو ته وړاندې کړم :
۱ ــ په یو نظام کې قضایه ، اجرایه او مقننه ارګانونه کومي دندې لري او کوم کسان یي داجرأ وړتیا لري ؟
۲ ــ زموږ په ولس دا ننني حاکم نظام ولسي دی او که تپل شوی ؟
۳ــ ټولټاکني باید دیرمختګ، نظم او سمون لپاره او که دلا نورو ګډوډیو لپاره تر سره شي ؟
۴ــ دیو هېواد په کوم دول امنیتي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو شرایطوکې ټاکني ناشوني ګڼل کیږي ؟
۵ــ کله چې عمومي وضعیت کرکېچن وي دټاکنو بدیل څه دی ؟
دیورتنیو پوښتنو ځوابونه ځان ته پخپله ورکړئ .

هو!
پرون ورځ زموږ دمقننه ارګان لپاره په داسي کرکېچنو او غیر نارملو امنیتي حالاتو کې تپلي، جعلي، تحمیلي شرموونکي اونامشروع ټاکني دنړدې درې نیم سووزرو ۳۵۰۰۰۰بهرنیوسرتېرواودکورنیوجنګي جنایتکارانو دملېشو هغه په اصطلاح ملي اردو؟؟ اوملي پولیسو؟؟ د لاپو غورواو دربوسره سره په دومره بد،ګوډاومات ډول سره تر سره شوې چې اصلأ ټاکني نه شو ورته وېلای ځکه خوبه را تلونکی پارلمان د یو توت ارزښت هم ونه لري .
دلیل یي دادی چې اول خودخلګو حضور په اکثریت په تېره بیا په جګړه ځپلو ولایتونو کې په صفر را ځرخېده او دوهم دا چې له حده زیاتي او ډول ډول درغلی پکې وشوې بده خوبې لا داچې سلګونه امنیتي پېښې ترسره شوې، افغان بیا دافغان وینې تویه کړې په لسګونو تپان شول خو دسقاُو لمسیان بیا هم ورتـه خوښ او دا ټاکني بریالی بولي .
زموږ د لستوني ماران چې هر څه وایي وایي دې خو زه د خیل ګرېوان له مارانومانا دا چې له خپلو یو څو پلورل شوو پښتنو څخه ګیله من یم .
دا یو څو پلورل شوي کسان هسې دغوره مالي او یوڅو ډالرو لپاره په خپټه اجیران شوي داکرغېړن ددې لپاره د حالاتو انځور په ناسم ډول دوېپیانو او نورو رسینیو له لارې بښیي چې که کومه ورځ کوم موقف ترلاسه کړي داپه داسي حال کې چې خپل نوم لا سم نه شي لیکلای په تېره بیا هغه بېسوادچې په یوه جمله کې لا دوه کلیمې سمې نـه شي لیکلای اوس خلګوتـه ځـان لیکوال ښیي لـه پردیوویبپانوڅخه دروغجن راپورونـه راټولوي دورمره خو سپین سترګی دی چې دماخذونونومونه یې لا نـه لیکي ځـان داسي ښیي چې ګواکې دا خو دده خپله لیکنه ده مقصد چې کرزی او دسقاُو لمسیان خوښ وساتي داکس درنو افغان وېبپانو لکه دعوت

او ټول افغان ته له نوروغيرلازمي ژبو څخه غير ضروري راپورونه اومطالب راکاپي کوي هم زموږ ددرنوويبپانوچلوونکو قيمتي وخت پرې نيسي او هم يې د درنو لوستونکو.
دا هغه جعلکاردى چې دخلګوليکني تحريفوي دغه يمن غوبنتل چې په ټولنه کې زماشخصيت ته زيان واړوي خو خبر نه وه چې شکر زموږ شريف هېوادوال اوس هر موزي او غازي ښه پوره پيژني په هر صورت دا مې ځکه تاسو ته وليکل چې هغه ناولي اوډارن زما ويبلاګ ته دتل په شان نن بيا په بدل نوم تبصره رالیږلې اوداپرونۍ شرموونکې ټاکنې يې پاکې،برياليۍ اومشروع بللي دي لنډه داچې داکس په يوه کربښه هم لا نه ارزي خوما هسې ستاسودخبرتيا لپاره دادخپلې ننني ليکني خوند پرې خراب کړبله چاره نه وه داځکه چې تاسوخبر شئ البته نوم به يې په راتلونکې کې تاسو ته وښيم نن مې هسې دومره تاسو ته يادونه وکړه چې دلستونې له مارانوڅخه ډېر خطردى او که دګرېوان له مارانوڅخه؟
مانا دا موږ چې تباه کړو دغوخپلو يوڅو خرڅ شوو پښتنو تباه کړوکه دوى داشرمېدلې چوکۍ ور پرېږدي باور وکړئ چې په يوه اونۍ کې به عمومي حالت بدلون ومومي .
اوس به راشو دې ته چې ولې پرونۍ ټاکنې دومره ناکامې وې ؟
داځکه چې د وروستۍ لسيزې جفاوو اوناروااوو زموږ د هېواد هر اړخيز بهيرداسې کاواکه اوغير نارمل کړ چې نه يې سر مالوم دى او نه بر څوک يې په دې خوا کشوي او څوک په اې خواپه هېواداو هېوادوالو مو ډېره سخته بده ورځ راغله، موږ د تروريزم او القاعده ځپلو په پلمه يرغمل شوو آن داسمان له هغه سره يرغلګراو اشغالګر په عجيبواو غريبو پلمو را ورسېدل، په تېره بيا دملګروملتونودناروا موافقې له مخې يې په افغان ولس تېرى وکړ ورپسې يې د بن کرغېړن او جعلي کنفرانس د خپلو موخولپاره بهترينه وسيله وګرزاوه ، بېګناه خلګ يې وکړول دطالب په نوم يې دپښتون خونه ونړوله ،نږدې لس کاله کيږى چې په لر اوبر اوربل دى دې ظالمانوپه بې شرمانه ډول سره افغان خاوره دجګړيزو عملياتواوتطبقاتوپه پليګون بدله کړه دادى اوس يې هره ورځ په موږ زده کوي .
په يو څو نجسو او پردي پالو يې د يو جعلي او تپلي نامشروع نظام متې ودرولې اوس يې دا ملي خاينان او هېواد پلورونکي دديموکراسي ؟؟ تر سيوري لاندې د حکومت په نوم په زور زموږ په ولس وروتپل .
ځينو بهرنيانوپه دې نږدې لسوکلونو کې هغه ناروارې اوټول وژني تر سره کړې چې هم نننې او هم به يې زموږ راتلونکې نسلونه محکوم او مخونو ته ور توپ کړي دې مکارو په پرله پسې توګه د نړيوالو ذهنتونه په ډول ډول ساخته کاريومغشوش کړل کله ورته دولسمشري ټاکنې رامينځ ته کړي کله هم دولسي جرګې ټولټاکنې اويانورغير لازمي کنفرانسونه او فريبجنې ناستې پاستې .
په ټولو رسمي غونډو، کنفرانسونو او په ځانګړي ډول د ولسمشري اوولسي جرګې په کانديدانو کې په سلو کې ٩٨٪ هغه کسان رامخ ته کړي چې خولې يې تر زامو پورې دولس په وينو لړلې دي دوى جنګي جنايتکاران او د ولس قاتلين دي، دا قاتلين د خپل ژوند د بقأ لپاره د راغلو نابللو هرې ناروا ته هرکلى وايي ددې تر څنګ زموږ ورونه قومونه يو له بل سره جګړو ته هڅوي ، دغو مجرمينو اوخاينانو زموږ په هېواد نن داسې بده ورځ راوستې ده چې د هېواد ځمکنۍ تماميت مو په خطر کې لوېدلى، زموږ دګران افغانستان د تجزې وړانديزونه نن په زغرده سره هغه تور مخي کوي کوموبه، چې درى لسيزې وړاندې له افغان مجاهدينو مخکې الله اکبر الله اکبر نارې وهلې خواوس دخپلې شرمونکې ماتې دپټولولپاره زموږ د هېواد تجزيه اوله هغه څخه بيا وروسته د شمال اوجنوب ولسونو ترمينځ اوږده اوتباه کونکې جګړه غواړي اوس نوتاسې وواياست چې آيا داوه د دوى بشردوستي، شرافت اوديموکراسي ؟؟
با احساسو خويندو او ورونو!
راځم بېرته ټاکنوته زه د ربښتينو او بې غرضو ټولټاکنو پلوى يم خو له بده مرغه چې لا خو زموږ ولس او هېواد له ربښتيني ديموکراسي څخه ډېر لرې واټن لري همدا اوس اوس په موږ تپلى نظام يو استبدادي نظام دى په دې ناوړه نظام کې دلږکيو هغه تورمخي حاکم دى چې اول خو يې خپل خلګ ورڅخه کرکه کوي اودوهم دا چې دا خو دوى وو چې کابل يې په کنډواله بدل او دورونو قومونو ترمينځ يې خطرناک درځونه واچول .
دنړۍ والي ټولنې په نوم راغلو نابللو د خپلو تورو موخود لاس ته راوړلو لپاره داپورتني جنګي جنايتکاران د خپلو بدو اعمالو دسزأ په ځاى دومره ونازول چې حدنه لري برعکس يې زموږ له مظلوم او بېګناه ولس سره دومره لويه ناروا وکړه چې دوى ته حيوان صفته هم نه شم وېلاى ځکه چې ځيرونکې حيوانات هم دومره ظالم او کرغېړن نه وي له همدې وجهې يو شمېرځيرونکو او خونخوارو انسانانوته اشرف المخلوقات نه شو وېلاى .
لنډه دا چې موږ بايد لمړنيو او خورا اړينو چارو ته ملا وتړو هغه داچې دسولې د را مينځ ته کېدو، په ولس کې دملي يووالي او هېوادپرستي د روحې پيداکولو لپاره نه ستړي کېدونکې ګامونه واخلود پرديو سر ورخلاص کړو چې زموږ په کړاو کې به تاسې هم وکړيږئ بهتره به داوي چې زموږ دولس غوښتنو ته درناوى وکړئ په دې دروغجنو، تپلو ټاکنواو نورو مسخره بازيو کې نه دتاسې خير شته او نه زموږ .
راځئ چې د بن دکرغېړن کانفرانس بديل رامينځ ته کړو، يوې لنډمهالې با مسؤليته اوهېواددوستې ادارې ته

حکومتي چارې ور په لاس کړو تر څو په دوودريو کلونوکي کې ربښتينو ټولټاکنو ته زمينه برابره کړي چې هم زموږ ولس په آرام شي او هم ستاسو د اوږدې ستراتيژي خندونه هواراو په خيرسره دکسپين تربهيرۍ پورې ور ورسيږئ .
خو که تاسي په جنايتکار محقق، غبرګ عبدالله، خليلي او دوستم حساب کوئ نو ياد لرئ چې هغوی د نښاګرو خصلت لري سر يې له يو او پښې يې دنورو په غېږ وکې پرتي دي .
قدرمنو لوستونکو!
زه دنړۍ انسان يم له ډلو ټپلواو سياسي سازمانونو سره کوم تړاو نه لرم ، نه قومي تعصب اونه له چاسره شخصي ستونځه لرم دا نړۍ زموږ ګډ کور دی په دې ګډ کور کې مې د هر انسان په مړينه خوابديږي نو له همدې کبله پرونۍ ټولټاکني غيرلازمي اودشرم وړ وې چې هم زموږ هېوادوال پکې مړه او ټپيان شول او هم په سلوکي لسو ګڼون پکي ونه کړ له دې ور اخوا دکانديدانو درغلی، جعلي کارتونه دګوتو رنګ او په تېره بيا هغه د دوی په
اصطلاح دخپلواک کميسيون ؟؟ او نورو متعصبو سميزو چارواکو لاسوهني او درغلی لا د شرم وړ وې چې له پښتنوسره يې يو ډول او له هزارهګانو يانورو قومونوسره يې بل ډول چلن وکړ ستاسو دقناعت لپاره دا لاندې راپورونه او ليکنې وړاندې کوم :

## هزاره رای ورکوونکيوته نيم ساعت زيات وخت ورکړل شو

ټول افغان ۱۸.۰۹.۲۰۱۰ ۱۵:۱۰

نن د شنبې په ورځ په هيواد کې د ولسي جرګې ټولټاکنې په داسې حال کې ترسره شوې چې په لسګونو زرو کورنيو او بهرنيو ځواکونو په ټول هيواد کې لومړي نمبر احضارات اعلان کړي ول.

دغه ټاکنې په داسې حال کې ترسره شوې چې نړيوالو د درنې مرګ ژوبلې وړاندوينه کړې وه خو د وروستيو راپوټونو له مخې تر دې دمه له يو څو وړو پيښو او سپکې مرګ ژوبلې پرته کومه درنه خونړۍ پيښه نه ده رامنځته شوې.

دغه ټاکنې چې دسهار پر اوو بجو پيل شوې وې او ټاکل شوې وه چې د مازيګر تر څلورو بجو په پای ته ورسيږي،که څه هم په ټول هيواد کې پر ټاکلي وخت پای ته ورسېدې خو يواځې د کابل دشت برچي او شاوخوا هغه سيمي دي چې اوسېدونکي يې هزاره ګان دي په دغه سيمه کې تر ټاکلي وخت نيم ساعت زياتي ياني د مازيګر تر څلور نيمو بجو پوري ټاکنې ترسره کېدې.

که څه هم د ټاکنو خپلواک کميسيون رئيس فضل احمد معنوي ددغه کار لامل سيمي ته د رای پاڼو ناوخته رسېدل وښودل خو له سيمي نه په ورکړل شويو ريپوټونو کې ويل شوي چې هزاره ګان په دومره ګڼ شمېر کې د رای ورکوني مرکزونو ته ورغلي ول چې په هر مرکز کې په زرګونو تنو خپلې رايي واچولې.

داسې هم ويل کېږي چې يو زيات شمېر هزاره ګان له باميان او دايکنډې نه کابل ته راغلي او خپلو کانديدانو ته يې رايي ورکړې.

معنوي په داسې حال کې دشت برچي ته درای پاڼو د ناوخته رسېدو خبر ورکړی چې د هيواد په يوشمېر پښتون ميشتو سيمو کې غرمه مهال رای پاڼي ختمي شوې وې او تر پايه نوري ور ونه لېږل شوې

د کندهار په يوشمېر سيمو کې تر غرمې پورې ډيری مرکزونو ته رای پاڼي او صندقونه نه و ورورل شوي،او ماسپښين مهال يې ايله دغه مواد ور ولېږدول شول،په خوړيانيو کې تر غرمې وړاندې رای پاڼي پای ته رسېدلي وې